
ناول
لوی
امپراتور
بدالي
بابا!
Ketabton.com
لیکوال:سیدادریس سادات
ډیزاین :سید عمران سادات

(c) ketabton.com: The Digital Library

لوی امپراتور ابدالي بابا!
بڼه:ناول!
ليکوال:سيد ادريس "سادات "
ترتيب کوونکی:دښار هلک!
مرسته:افتخار الله افتخار, ادريس ساحل صافی,
دکتاب ګڼه11:
دليکوال اثار:رنځور خامار. دسپين غر زخمي مرغی
.دننګرهار مينه.بی پروا انجلۍ.مسافره پيغله.
مغروره هلک. ناځوانه انجلۍ.دتورخم لار اوواده.ماته ميکده.
دا او همداسی نور کتابونه تاسی په ټلګرام او واټساپ کی دسادات کتابتون څخه تر لاسه کولايشی.
دسادات کتابتون
لينک:https://chat.whatsapp.com/BkftA:TVZgh494KdycomZuY
0779011816
واټساپ کی هم مسيج کولای شی

(c) ketabton.com: The Digital Library

سریزه
دلوی سپیڅلی او لایزال رب په نامه داچی پدی
وروستیو کی دانټرنیټ له لاری د pdfله مخی
دکتابونو
نشرولو ډیر زور اخیستی نو موږ هم دسادات کتابتون
جوړ او پر مخ مو روان کړ دخپل خدای نه شکر
ګذار یم
چی په ډیر لږ وخت کی مو ډیر زیات مینوال پیدا
کړل.
زه ډیر زیات مننډوی له هغو ورونو څخه یم چی زما
یوه قیصه یي لوستلی وه بیایي زه دی ته تشویق کړم
تر څو ناول ولیکم وس لپاره زموږ ناولونه دسروی
له مخی په ټوله پښتونخوا کی تر25000 کم وزیات
نفرو پوری رسیږي.
مننه دافتخار ورور څخه چی ددی ناول په لیکلو کی
یي خپل نظرونه له موږ څخه ونه سپمول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ډالۍ**

**دتاريخي ناولونو ټولو مينوالو ته!**

**تاسې ټولو ورونو ته دې ډالۍ وي.**

**هيله ده چې خوند ورنه واخلۍ او موږ پخپلو دعاګانو کې ياد وساتۍ.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

دلمونځ وخت دی زمان خان يي له خوبه پاڅاوه
سترګی يي وموښلی داوداسه په نيت يي خپلی متی بډ
وهلی بيرون په کلي کی ديخو اوبو شېرا خته دکلي
يخه هوا او سړه سيلۍ لګيده ژرژر يي اودس وکړ او
په منډه يي په کور کی په چينجن پوزي باندی خپل
لمونځ اداء کړ دسهار خړه وه او دکلي په لری غرو
رغو کی يو نيم د ليوه اواز اوريدل کيده زمان خان
خپل رب ته لاسونه لپه کړل.
يارب‌ه:لکه څرنګه چی دی يوه نيمه پيړۍ مخکی
صفويان د شاه محمود په لاس ذليله کړي وو خدايه
وس يو بل شاه محمود پيدا کړه تر څو دصفويانو دملا
تير ورمات کړي
خدايه زموږ هيواد يو خپل واک هيواد وګرځوه.
يارب‌ه:موږ خپل پخوانی نوم بايللی دی.
وس نو دخراسان په نامه هيڅ هم دځمکی پر سر نشته
خدايه ته خو زموږ دا بی وسه هيوادوالو ته دومره
طاقت ورکړی چی داځلور لوی قوتونه مات کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

***

یو دم غوغا ګډه شوه.
زمان خان له کوره بیرون ووت ټولو خلکو له یو بل سره خبری کولی.
زمان خان هم له یوتن څخه پښتنه وکړله.
ورور جانه څه خبره ده دا ولی نن په کلي کی شور دی.
هغه ورته وویل:ولی ته خبر نه يي؟
ورته يي وویل:نه
خبر شه پښتنو تاجکو ازبکو چار ایماقو او ترکمنو ډلو دکابل سیند په ورغیرمه راغو او بانډو.بلخَ.کندز.اندخوی.سرپل.شبرغان.هرات.اوباد غیس کی دنادر په وړاندی دخپلواکی بیرغونه راپورته کړي دي.
زمان خان ددی کلي پوه او هوښیار مشر دی اودټول هرات واګی په لاس کی لري دهرات ټول خلک يي یو موټی کړل !

(c) ketabton.com: The Digital Library

او يو لوى فوځ يي ورڅخه جوړ کړ تر څو دوي هم دخپلواکى بيرغونه راپورته کړي او دخپل هيواد راتلونکى روښانه کړي.
په دى ورځ دوه تنه نيان دابداليانو کلي ته راغلل د همدى کلي خلکو ته يي خبر راوړ چى نورو ولايتونو کى مقاومت کوونکي په توپونو کښيناستل هر ځاى کى يي پاڅونونه غلي کړي دي.
که چيرې تاسى دخپلواکۍ بيرغونه راپورته کړۍ نو فکر نکووم که کوم تن درکې ژوندي پاتى شي او نادر به تاسى ټول لکه دخاشاک وسوزوي.
دا دوه نفر لاړل زمان خان دهرات ټول فوځ پخپل لاس کى ونيو خو دهغوى روحيه ډيره کمزورى شوې وه علت يي دا وو چى هغو دوو نيانو ددوى په دماغو کى سخته ويره اچولى وه.
او داخبره ريشتيا ده چى هغه وخت په ټول خراسان کى دشورشونو دغلي کولو لپاره سختى ويني تويي شوى خو چى يو ځاى کى به يي دخلکو پاڅون غلى کړ بل ځاى کى به ورته راولاړ شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زموږ دوطن والو سر کښي دهماغه وخت نه خلکو ومنله او تراوسه یي یادوي زمان شاه دخپلی پوهی او زیرکتیا نه په کار اخیستنې سره دټول فوځ سر ورخلاص کړ او دجنګ لپاره یي خه قوي تابیا ونیوله.

زمان شاه دهرات ټول فوځ دصفویانو ددولت سره دډغرې وهلو په پار چمتو کړ.

په همدغی کال نادر هرات ته ترکمان صفي قلي خان راولیګه چی لښکر یي په توپچي ځواک او شوبلو سمبال وو.

ترکمان صفي قلي خان یي خاص دابدالیانو دټکولو لپاره هرات ته رالیګلی و.

***

دمحمد زمان خان تر مشرۍ لاندی ابدالي ځواک روان شو.

زمان خان له خپلی کورنۍ سره مخه خه وکړه ځکه دیو لوی قوت سره دجنګ نه وروسته دانسان ژوندي پاتی کیدل هیڅ امکان نلري.

زمان خان خپل مشر ځوي زولفقار خان نه پريښود

(c) ketabton.com: The Digital Library

تر څو جنګ ته لاړ شي خو مور يي ورڅخه منعه کړ.
زرغونه دزولفقار خان مور ډيره زړه وره او په
وطن مينه ميرمن ده ځکه يي خپل خاوند هم دجګړی
څخه منعه نکړ ټول ابدالي فوځ دزمان خان تر مشری
لاندی تر کافر کلا پوری راووت.
تر څو مرثيه يي ورڅخه فارسيان ونه نيسي
دصفويانو فوځ بی له کومی اندیښنی د ابدالي دام ته
وغورځيد هغه داسی چی هغوي پخپله بغير له کومی
ويری کافر کلا ته ننوتل او يو دم دمخی له لوری
پری يرغل وشو مخامخ جګړه پيل شوه دکارپوه
ابدالي زمان خان ټوپک لرونکي ځواک په صفوي
لښکر کی اورونه بل کړل ددرد زګيروي يي اسمان
ته پورته کيدل او دصفي قلي خان ټول لښکر دماتی
په ويره کی شاته روان شو.
دکافر کلا څخه هر تن دتيختی په حالت کی وو
داصفهان دولت ته دی جګړی ډير زيات تاوان
ورساوه د صفي قلي خان فوځ دړې وړې شو او
مشهد ته تيختي ته اړ شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ابدالیانو د یو ستر قوت دماتولو په پار دالله اکبر ناری ووهلی.
صفي قلي خان چی دخپل فوځ ماته پخپلو سترګو ولیدله نو دژوند څخه یي مرګ غوره وباله پخپله هم دباروتو پر بګۍ کښیناست او اور یي ور لاندی کړ.
ځان یي دړی وړی کړ1132.کال
کافر کلا هم هاغه پخوانی کلا پاتی نشوه او د صفي قلي خان او ابدالیانو جنګ په وینو سره او په اور توره کړه.
تر دی جنګ وروسته بیا نادر دابدالیانو او خاصکر زمان خان سره کار ونه لاره زمان خان دوه نیم کاله څه په ارامۍ برم اوعزت سره په خپل هرات حکومت وکړ په کال1135کی ابدالي احمد شاه وزیګید خو په همدې کال یوه بده پیښه رامنځته شوه او هغه داوه چی په همدی کال کی یي پلار دلاسه ورکړ.
داحمد خان دخپل ژوند لیکنه.
زما پلار په همغی بدبخته کال وفات شو په کوم کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

کی چی زه دی بی خونده نړۍ ته راغلم کاش نه وای راغلی.
زما پالنه زما مور زرغونی او زولفقار لالا په غاړه واخیسته زه تر ډیره وخته پدی نه پوهیدم چی زما پلار وفات شوی او ذالفقار لالا می مشر ورور دی ځکه دهغی په شتون کی ما هیڅ دپلار کمی ندی محسوس کړی په لنډه معنا ما چی خپل دپلار په توګه پیژندلی دی هغه ذولفقار دی او مور می زرغونه ده. خو وروسته می په هر څه باندی سر خلاص شو.
زما پلار زمان خان دټول هرات دخلکو واکمن وو ترکمان صفي قلي خان ته دماتی وروسته ورسره نادر هیڅ کار ندی لرلی او خپله واکمني يي په خه ډول سمبال کړی وه وس نو زما وار وو تر څو دخپل پلار ځای ونیسم که څه هم زما دورور زولفقار ددی واکمنۍ او مشرۍ سره هیڅ شوق نه وو خو بله لاره نه وه هغی ته قسمت په غاړه کی وراچولی وه.
زما دپلار دمړینی نه یو کال وروسته می مور زه او ذولفقار له هرات څخه راوباسلو هرات ورته بدبخته

(c) ketabton.com: The Digital Library

خکاریده فکر یي کاوه چی دبدبختۍ تر ټولو لوی لامل یي همدا هرات دی ځکه موږ دواړه یي په فراه کي خپل مشر ورور علي مردان خان کره بوتللو موږ دواړو خپل ژوند په فراه کی پر مخ بیولو ښکلي وخت وو زه چی کله پنځه کلن شوم ماما مردان خان بوتلم مدرسه کی یي واچولم زما دقران مجید سره ډیر شوق وو ځکه می په ډیر کم وخت کی زده کړ خو هر کله چی زه داتو کالو شوم ماما می هم وفات شوه ډیره سخته وه خو ژوند په یو حال نه پاتی کیږي.

بس نور چاره مو نه وه.

ذولفقار ورور راته وویل: وس نو نور دا ځای زموږ لپاره خه ندی ځکه چی دمهال دهرات ټول ابدالیان دنادر تر ولکی لاندی وو او فراه ته هم نادر راتللای شو ځکه دهغی قصور وس هم امکان لري چی زموږ په زړه کی وي او موږ به ورنه په قلاره ژوند هیڅکله هم ونکړو ځکه نو ما او ورور می قندهار ته روان شو خو ددی معلومات موږ ته نه وو چی دشاه حسین هم زموږ دپلار سره څه بدي وه او دهغی نه به

(c) ketabton.com: The Digital Library

هم په امن خلاص نشو موږ. خه په حیا او عزت
قندهار ته ولاړو او هلته دوه دری ورځی مو تیری
کړلی په څلورمه ورځ دشاه حسین عسکر راغلل
زموږ دکور دروازه یي راوټکوله زه ورغلم چی
ومی کتل عسکر وو زه او ورور ذولفقار یي ونیولو
1731کال وو بس زندان مو ځای شو په دومره کم
عمر کی دزندان د سختئ تیرول ډیر سخت دي خو
څه به مو کړی وی بله لار نه وه خپل وطنوال راته
خدای دشمن وګرځاوه.
زموږ نوره هیڅ هیله نه وه بس همدا مو فکر وو چی
ټول عمر به مو دازندان ځای وي.
او ما فیصله وکړه که چیرته هر چا موږ له دی ځایه
وباسلو.
زه به ټول عمر ورسره کومک کووم او احترام به یي
کووم.
شاه حسین هم هره ورځ راته موږ سره به یي
دپخوانئ عقدی خبری کولی بس زموږ هم څه چاره
نه وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماته به يي ويل احمد خانه زمان خان چی مور سره کوم کارونه کړي دي دهغی تاوان به ته راکوي.

1731

په1731 کال کی مور دشاحسين هوتک په زندان کی ولويدلو دهغی شکنجی ډيری سختی وي وخت تيريده ما يوه ورځ په همدی زندان کی يو ځوان هلک وليد خفه او خواشينی په زندان کی ناست وو زه يي هم خواته ورغلم ورسره کيناستم دامهال شپه ناوخته وه زمور پښی او لاسونه زولنو نيولي وو خو دګرځيدلو طاقت مو وو.

په دالان کی دپرتی ليمسي نه خوړين بوي لتيده تکه توره تياره وه صرف په کړکۍ کی دسپوږمی رڼا لږه راننوتی دکړکی نه په اسمان کی تلونکي وريځ داسی ښکاريدی لکه ډيره نيکمرغه چی وي په ازاده فضا کي مزل کوي خوند اخلي انسانان ګوري او فنا کيږي دهر مارغه دمنظر په ليدلو سره به می صرف ذهن ته همدا راتلل!شکر چی دامرغۍ خو ازادي دي.

ايله داوخت ماته معلومه شوه چی په قفس کی وخت

(c) ketabton.com: The Digital Library

تیرول څومره سخت دي ځکه مې فیصله وکړه چې هر کله دماما کره ولاړم لومړی به هاغه کوترې خوشي کووم چې ماما مې په قفس کې ساتلی دي په خواکې ناست زلمي مې سلام وکړ دحال پښتنه مې ورڅخه وکړه خپل ځان یي بیخي خه وښودلو خو څهرې یي دورایه داویله چې هلک خه په غمونو کې ډوب دی هلک وویل:ژوند هر چاته دخه کیدلو موقع هم ورکوي او د ماتیدلو وخت پرې هم راولي بس هر وخت چې دی موقع پیدا کړه ووزه ژوند وکړه او خپله ازادي دې په دایمي ویاړ بدله کړه.
ما ورځینې وپوښتل:وروره ته څنګه دلته راغلی یي سوړ اسویلي یي وکیخ ویل یي کیسې ډیرې اوږدې دي خو لنډه به درته داووایم چې دا زندانونه دګناهګارانو لپاره ندي جوړ شوي بلکې څوک چې ددې دولت خلاف وي هغوي به پکې اوسیږي.
واقعا داهلک ډیر هوښیار وو خو زه ترې تر اوسه پورې کشر وم او عمر مې څوارلسو کالو ته رسیده ما داهلک ډیر وغږاوه خو اصلي قیصه یي نه کوله

(c) ketabton.com: The Digital Library

اخر کی هلک په ژړا سو او خپله قیصه یي داسی پیل کړه.
زه دهرات ابدالي یم.
که فکر ته مو راشي زموږ ابدالیانو په هرات کی یو څه وخت مخکی "ډیر وخت نه !څوارلس کاله مخکی دنادر فوځ صفي قلي خان ته ماته ورکړی وه.
هغه وخت زما پلار دزمان خان سره مشاور وو زمان خان به له همغی سره په ټولو چارو کی مشوری کولی.
داسی نور خلک هم وو خو ډیر اعتماد یي زما په پلار درلود.
یوه ورځ شاه حسین هوتک ورته څه ډالۍ ورولیږلی او یو لیک یي هم ورته ورولیږه تر څو هرات هوتکیانو ته په حواله کړي.
خو زمان خان ورته ډیر کرک ځوابونه ورکړل ورته یي وویل:موږ داصفهان پشان قوت ته ماته ورکړه ته څه فکر کوی چی تاته به داسی په اسانه وسلی کیږدو.
لیکوال

(c) ketabton.com: The Digital Library

داوخت دنړی په سر دافغانستان یا خراسان په نوم هیڅ هم نه وو.
او افغانستان ټول تجزیه شوی وو.
دپردیو تر تسلط لاندی یو بی ګانه موجود وو افغانستان
هری خوانه پری پردي حکومتونه واکمن وو او نوی نسل خو بیخي پدی نه پوهیده چی موږ یو خپلواکه هیواد یو او وطن مو خراسان نومیږي.
پدی نوم هیڅ هم نه وو مطلب خالي خلکو دغلامی ژوند تیروو او تر دوو پیړیو پوری چا دخپلواکی د جام نه یوه ځکه هم نه وه کړی.
هماغه وو چی دشا حسین هوتک زموږ دکورنۍ او د زمان خان دکورنۍ سره واوریدله او ریشتیا خلکو ویل چی دزمان خان کورنی یي هم بندیان کړي دي خو دزندان معلومات یي نشته چی چیرته یي وړي دي.
ماورته ترخه موسکا وکړله !او په وړه خوله می ورته دالویه خبره وکړه چی دهغی زمان خان کورنۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

يو زه يم او يوه مى ورور دى چى شاته دټانكى سره په خواكى بيده دى هلک هک حيران شو لكه ورک څه چى يي ميندلي وي ژبه يي ودريدله.
ما ورته لږى څه اوبه راوړى هغه يي وڅښلى بيا يي وويل:ستا نوم څه دى ماورته كړه زما نوم احمد خان دى او ورور مى ذولفقار خان نوميږي.
ويل يي :خه ډير خه ګوره زه تاسو ته يوه ډيره ضروري خبره لرم په منډه ورشه او ورور دى راپاسوه.
زه لاړم !ذولفقار ته مى اواز وكړ هغى هم ژر ژر مخ ومينځه او راغى.
دى هلک موږ ته وويل:ګوره احمد خان او ذولفقار خانه
زه ستاسى په ګټه درته يوه خبره كووم هغه داده چى دهغى دخبرى شروع كولو نه مخكى ما ذولفقار ته داسړى پوره وروپيژانده.
سړي وويل: نادر وس هم ژوندى دى.
او همدا تاسو پسى ګرځي كه چيرته هغه خبر شي چى

(c) ketabton.com: The Digital Library

تاسی دلته یاست !نو هغه ضرور دلته راځي.
خو اصلي خبره داده چی هغه تاسو دواړو ته اړتیا
لري! هغی ستاسو پلار لیدلی او ستاسی په هوښیارتیا
هم باور لري!
هغه پوهیږي که تاسی ورسره شئ نو دهغی دواکمنئ
لمنه به نوره هم اوږده شي.
او تاسی کولای شی چی دخراسان هاخوا سیمی لکه
پنجاب ملتان لاهور او همداسی نوری سیمی دهغی په
امپراتوری کی شاملی کړی.
نو تاسی داسی وکړئ چی په یوه طریقه خبر تر نادره
پوری ورسوئ هغه به ستاسی لپاره ضرور راشي او
تاسی له دی تور دوزخ څخه لومړی مو خدای
وباسلی شي او بیا نادر یي وسیله ده ما او ذولفقار
پلان جوړ کړ چی څنګه تر نادر پوری خبر ورولیږو.
خو زما ذهن ته یو مفکوره راغله خو ویلي می ځکه
نشوه چی مشر ورور ذولفقار خفه نشي ځکه زه ډیر
کوچنی وم او دهغی خفګان می هیڅکله هم نشو
زغملای.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډیر په سختۍ می ورته وویلي چی ورور زه یوه مشوره لرم هغی راته بغیر دکوم ځنډ نه وویل:زر زر یي راته ووایه هله چی نور وخت په دی تور دوزخ کی نشم تیرولای.

ما ورته داسی مشوره ورکړله چی سباته ددی زندان څخه یو نفر خارجیږي نوم یي راته یاد ندی خو که موږ هغی ته خط ورکړو ایا هغه به یي تر نادر پوری ونه رسوي.

ذولفقار وویل:واه ډومره ښکلي مشوره دی خبری ته خو زما هیڅ فکر نه وو.

ماچی لیک لوست په مدرسه کی زده کړی وو نو ژرژر می خط ولیکه ذولفقار به راته ویل ما لیکل هر کله چی پوره شو هغه نفر چی دزندان نه خارجیدلو هغی ته مو ورکړ خو هغی موږ پوری ملنډی ووهلی او ویل یي نادر چی دټول اصفهان ښښتن او وس دلوی امپراتوری درلودونکی دی ته غواړی هغی ته زه داخط ورکړم هغه لکه چی زما دتره ځوي دی خو

(c) ketabton.com: The Digital Library

راسره يي ونه منله.
ډير زارى مو ورته وكړلى خو ريشتيا هم يو بيګانه انسان به څنګه دزمانى تر شاه پورى خط رسوي دى خو داخط وينه وړلو.
خو يو څه وخت وروسته يو بل تن له زندانه وتلو دى كس داخط څه په مينه جيب كى كيښود او ژمنه يي وكړه چى داليكنه به ضرور په نادر لولي او نور يي هيڅ ذمه واري پخپل ځان ونه منله خو ويي ويل چى داخط به ضرور په نادر لولم.
سړى لاړ او موږ په زندان كى دخپل خط جواب ته سترګى په لار پاتى شو څه وخت تيرشو خو دنادر هيڅ معلومات ونشو .
يوه شپه زه بيده وم يو دم مى د يو غټ شي غږ تر غوږه شو راپاڅيدم په منډه دزندان داوسپنى مخى ته ودريدم دلرى ځاى نه مى كتل چى سخته جګړه روانه وه او مخالفين د سلطان حسين هوتک دكاميابۍ په حالت كى وو.
زه پوه شوم چى نادر راغلى په منډه مى ذولفقار

(c) ketabton.com: The Digital Library

راپاڅاوه موږ خالي موقع ليدله تر څو وتختو اود نادر له عذاب څخه هم په امن کی شو خو د نادر عسکرو موږ ونیولو.

***

په همدی کال1338 کی نادر افشار زموږ دڅغورلو لپاره راغی ټول کندهار سره يي پخپله ډغره ووهله موږ دواړه ورونه يي مازنداران ته ولیګلو هلته به مو دبادشاهانو پشان ژوند کاوه.
دشاه په ماڼی کی اوسیدلو خدای تعالی ج راته دډیری سختئ وروسته راحت راپه برخه کړ او یو کال مو مسلسل نادر ته په همدی ځای کی انتطار وکړ خو هرڅومره به چی نادر ځنډیده موږ به خوشحالیدو ځکه که نادر راشي نو زموږ به په جنګونو سر شي او بیا بله لاره نلرو.
په همدی ماڼی کی یو اشپز اوسیده هغه به اکثر زما کوټی ته راته ماسره يي خه ساعت تیر وو هغه ځکه چی زما او دهغی عمر یو شان وو او هغه پوهان

(c) ketabton.com: The Digital Library

وايي چې هغه ملګرتيا هيڅکله هم سر نه نيسي چې ددوو ملګرو عمر پکې يا ديو بل نه ډير وي ياکم وي.
دااشپز هلک داد الله نوميده دی پخپله افغان وو خو مازنداران ته يي په ظلم او زياتي او په جبر راوستی وو ده به په اصل کی خوندور خواړه پخول ځکه دنادر زړه ته لويدلی وه.
يوه ورځ ما سهار وختي قرانکريم لوستلو زه په مانۍ کی ازاد وم هر ځايته چې می زړه غوښتل ولاړ شم اجازه وه راته ځکه نو په همدی سهار می دروازه راتېک شوه ما قرانکريم په قلاره بند کړ ورپاڅيدم ددروازی زلفۍ می خلاصه کړه چې ومی کتل تور داد الله وو.
لاس کی يي خوندور خواړه وو لکه دپسه غوښه وريجي او همداسی نور دايي په لرګين لوښي کی اچولي وو او خاص زما لپاره يي چمتو کړي ول زه ورته کښيناستم دسهار ناشته می خه په مړه ګېډه وکره.
اخر کی دادالله دجيب څخه دپاپيروس کاغذ راوباسه هغه يي راته راکړ او ويي ويل:ګوره احمد خانه زه په

(c) ketabton.com: The Digital Library

تا باندی دخپل مور او پلار نه هم زیات باور کووم.
ځکه کومه خبره چی زه تاته کووم هغه که زما مور او پلار هم واوري ما به ژوندی پرینږدي ما ورته وویل ووایه ورور څه خبره ده.
ویل یي:په اخیري منزل کی د نسیم الله په نوم یو سړی اوسیږي ما ورته وویل خا.
ویل یي: دهغه یوه لور ده سحر
ما ورته وویل بس بس پوه شوم یاره.
مخکی دی ولی راته نه وویل:په داسی وخت کی چی یار یار ته په درد ونه خوري نور به کوم وخت کی په درد خوري.
ته بی غمه شه ته دی تر غرمی خپل کار وکه زه به داخط تر غرمی پوری وخپل ځای ته ورسوم داد الله ووت په همدی ورځ ذولفقار بیرون وتلی وو ویل یي چی نن نادر راځي او زه به دهغی سره وګورم ته همدلته پاتی شه.
ماته وس نو ډیر لوی کار را په غاړه وو خو زه خیر توکل په خدای اخیري منزل ته راکیوتم دروازه می

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټک ټک کړه.
پخپلو جامو ګیره او پټکي می لاس کش کړل.
یو سړی راووت.
ما ورته وویل:اسلام علیکم زه ابدالي احمدخان یم.
هغه راشخه مخ واړولو.
او بیرته خپل کور ته وګرځید.
دروازه یي راپسی رابنده کړه هک حیران شوم.
چی داڅه رقم سړی وو.
او زه به دادالله ته څه جواب ورکووم.
یو ځل بیا می دروازه ټک ټک کړه.
داځل دروازی ته یوه انجلۍ راغله.
فکر کووم پښتو یي زده وه.
ځکه راته یي وویل:وبښۍ ورور ستاسی دقوم سره
زما پلار جان دشمني لري دهغی دری زامن
دابدالیانو سره په جنګ کی وژل شوي دي.
او که بیا دی دهغی دروازه ټک ټک کړه.
امکان لري هغه مو ژوندی پرینږدي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما ورته کړه خوری ستا خبره سل په سلو کی سمه ده خو ماته داداالله یو خط راکړی.
زه صرف راغلی یم هغه خط تر تاسی پوری درورسوم او بس.
ویل یي خا هله زر زر کوه خط راکه.
چی پلار می ونګوري.
خط می ورکړ او په خوشحالۍ خپل اطاق ته راغلم.
په همدی ورځ راته داداالله دخپلی میني قیصه وکړله.
واقعا چی دلیلی مجنون دقیصی نه که زیاته نه وه کمه هم نه وه.
قیصه به یي زه دلته ولیکم خو که دچا یي لوستلو ته زړه نه کیږي نو تر*** دی علامی وروسته دناول نوره برخه ده.
خو ویي لولی واقعا چی دی کیسی دناول خوند برابر کړی دی.
***
زه نادر خان پوره اته کاله مخکی دلته راوستی یم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

موږ په خپل کلي کی نیان وو او په ودونو خوراکونو کی به مو خوندور خواږه پخول او خلکو ته به مو نوي خبرونه راوړل او کله کله به مو خلکو ته ویختان هم جوړول.
ځکه چی دنیانو وظیفه وي همدغه.
وختونه تیریدل یوه ورځ خبر راغی چی نادر دخراسان په هر ولایت کی ظلمونه شروع کړي دي.
او هر ولایت نه ورپسی پاڅونونه راوتي دي.
موږ دغه خبر تر کلیو بانډو او خلکو پوری رساوه او دکلي ملکانو به موږ ته خپل قلنګ راکاوه.
نادر ریشتیا هم په هغه وخت کی ډیر زیات ظلمونه شروع کړي ول.
یو وخت موږ اصفهان ته راغلو تر څو نوی خبرونه واخلو او خراسان کی یي تر خلکو پوری ورسوو.
همداسی مو وهم کړل.
ټول خبرونه مو راغونډ کړل خو چی راتلو یو نفر راباندی غږ وکړ چی که چاته ښکلی پخلی زده وي.
نن دلوی پاچا دزوي سنت کري ده او که لوی پاچا

(c) ketabton.com: The Digital Library

دهغه پخلی خوخ کړ.
نو په بدل کی به یي ډیر څه تر لاسه کړي.
ما ورته وویلي چی زه یي کوم او که لوی پاچا می پخلی خوخ نکړ نو بیادی ما زنداني کړي.
زه ټولو خلکو ډیر په درنښت هغی میلمستون ته وروبللم.
دامیلمستون دلوی بادشا یا نادر افشار په شاهي ماڼۍ کی وو.
ډیر فوق العاده میلمستون یي جوړ کړی وو.
فکر کووم داورته دخپلو پخوانیو مشرانو نه پاتی وو لکه شا حسین صفوي اسماعیل صفوي او همداسی نور.
په دیوالونو یي هر ډول نقاشیانی شوی وی.
د شاه حسین انځور هم په یو دیوال نقاشي شوی وو.
رقم رقم ډیوی یي پدی ماڼی کی بلی کړی وی.
ما ورنه پوښتنه وکړه: ایا هغه همدا ماڼی وه ته چی یي وس یادونه کوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ویل یي نا هغه ماښی شاهي ماښی ده تاسی خو یي دلته مازنداران ته راوستي یاست دلته صرف شاهي میلمانه اوسیږي هغه ماښی کی اوس هم لوی بادشاه اوسیږي.

ما ورته وویل:خا مخکی قیصه کوه.

ویل یي پدی ماښی کی ما پوره سل دانی داوسپنی دیګونه باندی کړل او ټول وخوړل شول په هماغی ورځ زما خوراک یوی انجلی ته هم رسیدلی وو بیابه یي هر چانه زما پښتنه کوله.

زه دهماغی بدبختی ورځی نه دنادر اشپز شوم.

ددی پر ځای چی ماته انعام راکړي زه یي خپل غلام وګرځولم خو خه وه یو څو ورځی وروسته راسره یوه انجلۍ مخامخ شوه.

فارسي کی یي څه خبری کولی خو زما سر پری خلاص نشو په اخر کي یي پښتو شروع کړه ویل یي تاسی دلوی بادشاه اشپز یاست.

ما ورته وویل: هو زه یم بیایي وویل چی تاسی خو ډیر خوندور خواړه پخوئ ویل یي چی دابه ماته هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

رازده کوي.
ما ورته وويل ولی نه په دواړو سترګو دا انجلۍ به
هره ورځ راتله او زما ښخه به يي چل زده کاوه هممم
نه چل يي نه زده کاوه بلکی که دچل زده کولو لپاره
راتلای نو په هماغه لومړی ورځ هم چل زده کيده
خو دابه راتله صرف زما ددیدن لپاره تر څو ما
وګوري زما څهره ډيره بدرنګه وه تور وم.
خو مخ می نوراني وو او دانجونو تنده پری ماتيده دا
انجلۍ په ما مړه مړه وه خو داځو ورځی مخکی چی
يي تاسی دلته راوليګلی نو لوی باد شاه زه هم دلته
راوليګلم زما زړه ډير سخت تنګ وو او بغير دسحر
نه راباندی يوه لحظه هم نه تيريدله بس سحر ته به
می لدی ځایه خطونه ورليګل خه وو هغی هم په
کومه طريقه خپل پلار راضي کړی وو او ستاسی
دراتګ په دويمه ورځ هغوي هم راغلل خو ما هيڅ
چالاکي نشوه کولای ترڅو تر هغی پوری داخط
ورسوم ځکه هغوی دماښی په اخر منزل کی وو.
او هغومره ماته اجازه نه وه چی ولاړ شم نو ستانه

(c) ketabton.com: The Digital Library

نړۍ نړۍ مننه چې زما دا کار دی وکه او دااحسان به دی زه تر مرګه هم حیر نکړم.
ما ورته وویل پدی کی داحسان څه خبره ده یاره ملګری می یي چی ستا لپاره دومره نکووم نور به یي دچا لپاره کوم
***

په همدی ورځ ذولفقار راغی.
ویل یي چی نادر په ملتان پنجاب او کشمیر یرغلونه کړي دي خو دخراسان قواوی ورسره هیڅ همکاري نکوي. موږ باید ځانونه تکړه کړو!
او دنادر داحسان بدله باید چی په احسان بدله کړو.
دذوالفقار فکر داوو.
خو ماسره دخپل هیواد غم وو ما به ویل چی کله به می دخپل هیواد پخوانی برم او عزت لاسته راوړم او کله به دخپل هیواد پولی په ټولو نړیوالو په رسمیت پیژنم داخبره می دپلار په یوه کتابچه کی لوستلی وه په هغی کتابچه کی زما دپلار تر ټولو لوی ارمانونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

لیکل شوي وو.
یو پکی داهم وو چی) کاش خراسان په نړی کی داسی هیواد شي چی دنړی هر هیواد ورڅخه خار وخوري او دجنګ په ډګر کی ورسره تل دماتی ویره وي(.
بله مهمه خبره یي داوه چی) که ژوندی وم نو ضرور خپل وطن یو خپلواک وطن ګرځوم او که مړ وم زما بچیان او لمسیان دي یي راوګرځوي(.
دی خبرو زما په وجود کی یو ډول جوش پیدا کړی وو.
په هر حال زه دامهال اتلس کلن شوم دنادر په فوځ کی می مکتبي زده کړی وکړی او تر ډیره بریده می خپله خواري کوله بس خالي دموقع په انتظار وم چی خپل افغانستان راوګرځوم او دپلار ارمان می پوره کړم.
یو څه وخت همدلته پاتی شوم خو وروسته یي دفتوحاتو لپاره یو یو ځای ته لیګلم او وړه ډلګی به راسره وه ځکه چی تر دی مهاله راباندی دنادر پوره

(c) ketabton.com: The Digital Library

یقین نه وو.
خو هر کله چی نادر چی موږ به په لوی بادشاه نوماوه له هند څخه بریالی راغی او په مشهد کی یي ځانته جشن ونیوه تر څو خپل زړه خوشحاله کړي ځکه دهند فتحه یوه لویه کارنامه وه.
په هماغه ورځ یي زه د نورمحمد خان علیزي په فوځ کی شامل کړم خدای شته دی چاری یي ماته خوند هم رانکړ خو بله چاره نه وه په دی ورځ په مشهد کی خه غوبل وو رقم رقم نڅا ګرانی نادر ځانته راغوښتی وی هر ډول شراب یي مخی ته پراته وو ټولو وزیرانو او دمنصب څښتنانو یي خه زړونه پدی ورځ خوشحاله کړل.
نادر افشار سخت بدرنګه وو یوه نڅاګره نادر ته ورغله ورته یي وویل:دلوی بادشاه حضور ته دی سلام وي.
هغی ورته په نشه کی دسلام جواب په زنګیدلي اواز ووایه.
نڅاګری نادر ته وویل: پاچا سلامت خدای تعالی چی

(c) ketabton.com: The Digital Library

حسن ویشلو تاسی چیرته واست.
نادر ورته نری موسکا وکړه دخپل تندي څخه يي دنشی ګونځی لری کړي.
یوه وریځه يي دغرور په ډول وچته کړه.
ورته يي وویل:په کومه ورځ چی الله ج حسن ویشلو په هغی ورځ تاسی لاړی دحسن په صف کی ودریدی او زه دبخت او طالع په صف کی ودریدم!
وس وګوری ستاسی پشان خکلی او حسن داره نځاګری پیغلی زما دبخت او طالع غلامانی دي او که وغواړم داسی يي وژنم چاقو يي راوباسه اوپه ډک محفل کی يي دانجلی په مری کش کړ.
ټول محفل کی خاموشي خپره شوه.
هیڅ چا خبره نشوه کولای نادر د میو داوبو جام په سر راواړاوه او دخپلو وزیرانو او سلاکارانو سره دخپلی خونی په لوری ولاړ دنادر دی غرور راته هیڅ خوند رانکړ او ذوالفقار چی ولید هغه سیده ولاړ هرات ته او خپل عادي ژوند ته يي ادامه ورکړه.
زه دنور محمد خان علیزي تر قوماندی لاندی

(c) ketabton.com: The Digital Library

ارمنستان او داغستان ته ولیګل شوم تر څو دنادر په قلمرو کی داسیمی هم شاملی کړو.
ما ټول اسباب دسفر برابر کړل دامهال زه یو عادي سرتیری نه وم بلکی وس هم راسره خپل قطعات موجود ول.
په داغستان کی مو دجنګ اراده نه لرله خو دشپی دطرف نه راباندی دښمن برید وکړ دنور محمد ټول فوځ یي خراب کړ او هغوي ټول اړ ول چی شاتګ وکړي خو ما خپله قطعه تیاره کړه زه پخپله ددښمن منځ ته ورګډ شوم بس ددښمن سرونه به مو لکه دغنمو دریبلو په رقم ریبل دنور محمد فوځ چی زموږ جذبه ولیدله نو شاتګ یي پریخود او جنګ ته یي راودانګل په دی جګړه کی نور محمد خان سخت ټپي شو او دی جګړی مشري تر اخره پوری ما وکړه.
دښمن هیڅ په میدان کی ښکاره نشو او دخلکو په کورونو ننوتل ځانونه یي پټ کړل زه په هغه غټ فیل باندی کښیناستم کوم چی دنور محمد خان وو نور محمد خان یي ددرملنی لاندی په همدی ځای کی ونیو

(c) ketabton.com: The Digital Library

او موږ دتخت نیولو لپاره شاهي ماڼی ته روان شو.
تر شاهي ماڼی پوری دومره لار نه وه خو دفیل مزل ډیر سلو وي دالږه لاره راته ډیره سخته زیاته اوږده شوه.
دشپې یوه بجه دشاهي ماڼۍ ته ورسیدلو دداغستان شاهي ماڼی دډیر شهرترلودونکی وه ما کله فکر نه وو کړی چی زه به داماڼۍ دومره په اسانه فتحه کړم خو فتحه یي هم دومره اسانه نه وه دداغستان فوځ ختم شوی او تختیدلی وو ډیر لږ خلک یي دشاهي ماڼی ساتلو لپاره پاتی وو شاهي ماڼی ته یي تاله لګولی وه.
دفیل ځغلوونکی فیل ته حرکت ورکړ دفیل دلومړۍ دغری سره شاهي دروازه خلاصه شوه او کوم عسکر چی پکی ول ټول تسلیم شول دماڼی تر تالاره پوری ورسیدلو دداغستان حکمران راته تیار په تمه وو دشاهي احترام له مخی زه ورته نیغ ودریدم او داسی الفاظ می له خولی څخه راوباسل.
ښاغلی حکمران صاحب امکان لري قدرت به ستاسو دحکومت نیټه همدومره ټاکلی وه زه پدی خوشحال یم

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې ستاسی په هیواد کی زیات جنګ ونشو او ملکي وګړو ته مو هیڅ زیان ونه رسید وس نو باید زه ستاسی تاج لوی بادشاه نادر ته ورسوم ځکه دادهغی غوښتنه ده.

تاج مو يي له سر څخه کوز کړ دلته مو د همدی داغستان نفر چې پخوا زموږ جاسوس وو دحکمران په توګه وټاکلو ددوی وسایلو زموږ ملا نوره هم قوي کړه داغستان دنړی دلویو طاقت لرونکو هیوادونو څخه وو او دنیولو ګټه يي داوه چې دنادر امپراتوري ورسره تر ډیره حده قوي کیدله.

ددی ستری کامیابۍ نه وروسته زه دنادر دخاص فوځ مشر شوم نور محمد خان هم زموږ دلاس لاندی عسکرو کی وشمارل شو.

دهمدي ورځی په سبا نادر ماته دارمنستان نقشه راکړه ترڅو دجنګ لپاره هلته ولاړ شو او ارمنستان هم دنادر په قلمرو کی شامل کړو نادر په ما تر خپل ځانه زیات باور درلود نه پوهیږم ولی خو داسی معلومیده راته لکه نادر چې پوهیږي زه به ضرور

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورته دهر جنګ کامیابي راوړم.
دارمنستان سره په جګړه کی مو ډیره قرباني ورکړه خو اخر هم مخالف لوری تسلیم شو او موږ خدای کامیابه کړو ددی فتحی څخه وروسته یو ځل بیا دنادر فکر زما طرفته شو ماورنه غوښتنه وکړه ترڅو ما دټول افغانستان دفوځونو مشر وټاکي تر څو دافغانستان سرتیري هم دنادر دګټي لپاره وکاروم خو نادر نه منله ځکه چی نادر دهرڅه باور راباندی کاوه خو ددی څه باور یي نه درلود.
خو هرڅنګه چی وو زه یي اخر دخپل افغان فوځ مشر کړم پدی ورځ زما خوشحالي داختر دورځی څخه هم ډیره وه ځکه زما ارمان همدا وو چی دافغان فوځ مشر شم او دخپل پلار ارمان پوره کړم.
ددی نه وروسته زه په هرات کی دټولو ابدالیانو هزاره وو او ایماقو فوځونو منځ کی مشهور شوم مطلب په لږ وخت کی می ډیر زیات شهرت پیدا کړ په لار کی چی به هر نارینه او میرمن کتلم ګوته به یي راته نیوله چی هاغه ابدالي احمد خان دی دټول

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغان فوځ مشر زه دامهال په یوه معنا دټولو افغانانو حکمران هم وم ځکه چی فوځ دچا په لاس کی وي هغه ته دحکمران درجه هم ورکولای شو خو زه دعامو خلکو په رقم ګرځیدم ځکه چی دشاهي اصولو څخه ناخبر وم او داهم راته معلومه نه وه چی دفوځ دمشر څه حیثیت وي ځکه نو نادر بیرته اصفهان ته وغوښتلم.

هلته می دشاهي اصولو سره سره دنادر شاه افشار ډیر پټ رازونه هم مطالعه کړل او دشاهي اصولو پټ رازونه چی باید هیڅکله هم ملت ته افشا نشي هغه هم یاد کړل ددربار ژوند دعادي ژوند څخه ډیر فرق لري ځکه که چیرته یو مشهور او ملت ته ریښتینی خدمت ګار نفر بیرون په لارو او کوسو کی دعادي انسانانو په رقم وګرځي نو دښمن ته ډیر خه چانس برابریږي تر څو ورڅخه ټک پورته کړي او ختم یي کړي.

باید داسی خدمت ګار نفر پټ وساتل شي تر څو د ښکار خوړونکي دښمن ښکار نشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه یوځل بیا دداداللّه سره مخامخ شوم هغه وس هم په هماغه ځای دنادر سره اشپز وو ما ورسره روغبړ وکړ ویل یي یاره احمد خانه تر څو پوری به دنادر سره پدی شاهي زندان کی شپی سبا کووم ته راته څه لاره برابره کړه کنه ترڅو دواړه لدی ځایه ولاړ شو ماورته وویل:یاره ته بی غمه شه انشاالله سبا زه زم او تا به هم یوځای ځان سره بوزم ته باید ماسره په ټولو چارو کی مرستیال واوسي صرف همدا یوه ورځ صبر وکړه نور مو هم ډیر مجلس سره وکړ دمیني په اړهمی ورڅخه وپوښتل ډیر خفه وو ویل یي چی پلار یي غواړی خپله لور کوم فارسي ته په نکاح کړي خو لور یي ورسره نه مني او لور یي وايي که زه یي بل چاته په نکاح کړم زه به خپل ځان ووژنم.
زه بیریږم هځی نه سحر لیونۍ ځان مړ نکړي کنا بیا زه هم یو انسان یم زه هم پدی دنیا بغیر دهغی نه ژوند نشم کولای او هغه چی دومره جرات کولای شي زه ولی ځان دسحر لپاره قربان نکړم.
ماورته وویل:یاره ته بی غمه شه انشاالله سبا به سحر

(c) ketabton.com: The Digital Library

هم لدی ځایه بوځو داشپه ما او دادالله خه مجلس وکړ
او تر ناوخته پوی ویخ وو هر کله چی سهار شو
دادالله خپل پنډونه وتړل ماهم ځان دتګ لپاره اماده
کړ لومړی لاړم د نادر نه می دتګ امر واخیست هر
کله چی نادر راته امر راکړ ما په همدی امر ځان
سره دادالله هم تر اخیري منزله رابسکته کړ.
دسحر دوي کور مخی ته ودریدو هیڅ لار نه وه تر
څو سحر له کوره راوباسو ډیر فکر مو وواهه خو
هیڅ چاره نه کیده دیو څه شیبی وروسته دسهار
پلارله کوره راووت زه چی یي وکتلم مخ یي واړاوه
ویل یي ته بیا راغلی یي؟
خبر سوی یم وس دټولو افغانانو ابدالیانو او ټولو
قومونو دقوځ مشر شوی یي مبارک دی وي.
او ها سبا زما دلور سحر واده دی هتمن تاسی دواړه
راشئ نور یي پلار روان شو د شا خوانه ورپسی
اواز وشو نسیم شا بیا که سر ای دخترت چی شد نسیم
شاه په منډه کور ته وځغستل زه پوه شوم چی کیسه
ورانه شوه دادالله می ځان سره په زور مخکی کړ

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه نه تلو سوال يي راته وکړ چی خیر دی یو ځل
می دسحر دیدن پریږده په زو ولاړ ماهم وکتل سحر
په اشپز خانه خپل لاس په چاقو ځیری کړی وو او
دخولی څخه يي هم دوینو داری روانی وی دادالله یو
دم دنسیم شاه کاکا غاړی ته لاس واچاوه ددوو
سوکونو سره يي سړی پړ مخ یی په ځمکه
راوغورځاوه مور يي هم ورته یوه کلکه سپیړه کش
کړه چاقو يي راوخیست ما ورنه په زور چاقو
واخیست او دځان سره می مخکی کړ شکر چی نسیم
کاکا دوچتیدلو نه وو کنا دلته به څومره غټ مشکل
جوړیدو داوښکو نه په ډکو سترګو می دادالله مخکی
کړی وو هغی ددرد زګیروي کول او ما ګاډۍ ته
وچت کړ اوسیده می خراسان ته راوست په لاره کی
يي راته دسحر هره خبره کوله دهغی په مینه کتل به
يي باربار راته یادول ماته به يي ویل خیر دی احمد
خانه ما پریږده ماهیڅ مسولیت د سحر لپاره ادا نکړ
کاش پرون می دسحر پلار نسیم همدغسی په سوکانو
وهلای وای نن به ولی داسی په سرو سترګو ژړیدای

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولی به می دخپلی مینی بی روحه جسد کتلای لکه
دلیونیانو په شان چغی يي وهلی په دری نفرو مو
کلک کړی وو هیڅ نه قلاریدو په خراسان کی می یو
روغتون ته وسپارلو زه تری ولاړم خپل ځانګړي
ځای ته هر کله چی دخوب وخت شو ځان ته می
شېړۍ اواره کړه پکی پریوتم دوه دری دقیقي به می
سترګی نه وی ورغلی چی دروازه ټک ټک شوه
راپاڅیدم یخه هوا په کړکی کی رانتوتله بیرون باد
دکړکی پله په زوره دلاستي سره وهله د بریښنا
درزونو په اسمان کی دویری ماحول جوړ کړی وو
هر کله چی زه بیرون راووتم ددروازی زلفۍ می
خلاصه کړه ومی کتل چی پوسته خانی والا خط
راليګلې؟
لیکلي يي وو!
ستاسی خاص ملګری چی تاسو سره داصفهان نه
راغلی وو دادالله نن دروغتون څخه تختیدلی دی مونږ
ستاسی څخه هیله لرو چی خپل عسکر مو دهیغی د
پلټنی لپاره ولیږۍ تر څو هغه پیدا او یوځل بیایي

(c) ketabton.com: The Digital Library

روغتون ته راولي دواړه لاسونه مى سرته تکيه کړل ژر مى خط وليکه او دهمدى پوسته خانى والا په لاس مى ټولو عسکرو ته وليګه په ډير لږ وخت کى يي داداﷲ پيدا کړ نه داداﷲ يي پيدا نکړ بلکى دداداﷲ مړ جسد يي پيداکړ

انا ﷲ وانا اليه راجعون.

غم يي وس هم ما ډير کړوي دسحر دمړيني غم دومره خفه نکړم خو د داداﷲ مړيني راباندي شپه او ورځ خوب حرام کړ بس رسم شوي انځور ته به مى يي هره ورځ ويرونه کول خو اخر کى مى دى هر څه ته ديو خوب په نظر وکتل ځکه که چيرته ماټول عمر دهمدى لپاره خفګان کولاى نو بيا رانه ژوند پاتى کيده خو ددى پيښى نه مى يو څه زده کړل هغه داچى که چيرته خپله ويره يوه ورځ مخکى هم له مينځه يوسو نو ډيره زياته ګټه به وکړو اوامکان دى ولري چى خپل ژوند او ديو بل نفر ژوند هم بچ کړو .

زه دخپل يار په غم کى اخته وم چى خبر راغى نادر يي وواژه ددى پيښي نه هم زه بيا وروسته خبر شوم

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې نادر چا وواژه نادر د محمد خان قاجار او دهغه دملګرو په ګډون په خبوشان کې ووژل شو.
هغه داسې وه چې دنادر ظلمونه له حد څخه واوړیدل لکه دهغې نه يي دسیکانو ظلم یادولای شو سیکان يي په هند کې هیڅ په ارامه نه پریښودل هغوي يي اخر دیته اړ کړل تر څو خپل ځایونه پریږدي او ولاړ شي دپیخور بازي سیمو ته خو هلته هم دنادر دظلم لاندې راغلل او ټول ووژل شول
)لیکوال(
)سیکان هغه ورځ وس هم هر کال لمانځي او ویر پرې کوي.
دادهماغه ظلمونو نتیجه ده چې وس په هندوستان کې هر مسلمان باندې ظلم کیږي وژل کیږي او ډیرې مسلمانان دکشمیر اولاهور له لارې پاکستان ته راتختي لکه څنګه چې يي پښتو ناول زه دچا لور نه یم کې یادونه شوې ده
پوهیږم چې په ناول کې دلیکوال خبرې بور کوونکې وي خو باید چې دپوهاوي لپاره یو څه وویل شي(

(c) ketabton.com: The Digital Library

او ددومره لويي امپراتورۍ ښتن خو به خود ديو چا دتورى لاندى راځي ځکه چى دامپراتورۍ سره سره يي ډير دښمنان هم درلودل.
دنادر دمرګ خبر اوريدو سره سم دنادر فوځ ټول دنادر دکورنۍ دوژلو لپاره لاسونه رابډ وهل زما ورتګ هلته مشکل وو خو ديو ماهر خواته ورغلم هغی راته ديوسړي ادرس راکړ هر کله چى ولاړم دى نفر يو څه کوترى ساتلی وى خه تربيه يي ورکړى وه ما ورته خپل مشکل ووايه هغی راته وويل چى هيڅ خبره نده زما دا کوترى کولاى شي ستاسى ليکنه تر اصفهانه پورى ورسوي.
ما همدلته داصفهان دفوځ لپاره خط وليکه وس مى له ياده وتى خو داخبرى مى پکی ذکر کړى چى که هر چا دنادر دکورنى يو ويښته ته هم زيان ورساوه.

زما سره دى ډغرى وهلو ته چمتو شي داچى دنادر

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټول فوځ زما څخه زيات بيريده ځکه چې دنادر ټوله امپراتوري زما په لاس کی وه او هم يي فوځ تر ډيره وخته زما دلاس لاندی پاتی شوی وو په همدی ورځ می دکوترو په ضريعه دری خطونه ورولیګل او شاته ورپسی زه خپله داوزبکو ايماقو ابدالي او ټول افغان فوځ سره وروان شوم.

خه په ميړانه داصفهان ښار ته ورننوتو او همداسی تر شاهي ماڼۍ پوری ورغلو دنادر کورنۍ ته مو دزړه دصبر دعا وغوښته او نادر ته مو هم دمغفرت دعا وکړله دنادر دکورنۍ شاوخوا مو پوره يوه مياشت پيره وکړه تر دی پوری چې داصفهان حکومت خپل حکمران وټاکلو خو نور يي ما امر نشو منلای ځکه موږ هم دا ارمان درلود تر څو يو خپلواکه هيواد ولرو اونړۍ سره ډغره ووهو.

هر کله چې زه دخپل فوځ سره داصفهان نه راتلم نو دنادر ميرمن دفخراج يوه قيمتي ډبره ماته ډالۍ کړه او مننه يي وکړه دهغی قيمتي ډبری نوم کوه نور وو هغه وس هم دافغانستان په مشهور ولايت هرات کی

(c) ketabton.com: The Digital Library

شتون لري او زه هيله لرم چی دافغانستان ټول
راتلونکی نسل يي تر قيامت دورځی پوری پخپل
هيواد کی وساتي پالنه يي وکړي او پری وویاړي.
)ليکوال(
دغه قيمتي ډبره چی ابدالي بابا ذکر کړه داډبره وس
مهال لپاره دانګلستان په مشهور موزيم کی ده او دايي
دخپل حکومت په دور کی چی ډيرو بی غيرته
افغانانو هم ورسره لاس يو کړی وو لدی ځای څخه
وخپل هيواد ته وړی ده.
موږ اصفهان دتل او تل لپاره پريښود او راغلو خپل
خراسان ته په قندهار کی افغان مشرانو هر يو حاجي
جمال خان بارکزی, محب خان پوپلزی,موسی خان
اسحاقزی,نور محمد خان عليزي او نصرالله خان
نورزي په کندهار کی دشير سرخ دمقبری په خوا کی
چی نادر اباد کی موقعيت لري يوه جرګه جوړه کړه
تر څو ملي مشر وټاکي.
زه غلی يو خواته کښيناستم ځکه چی يو عادي دفوځ
مشر وم او ددومره لوی هيواد مشري چی تر اوسه

(c) ketabton.com: The Digital Library

پورې يي نام او نښان نه وو خو پخوا يو لوی هیواد
وو زه به يي چيرته سمبال کړی شم.
هر خان به دخپل ځان په باره کی غټی خبری
کولی او غوښتل يي تر ځو ددی لوي هیواد مسؤلیت
پخپله غاړه واخلي هر يو نفر به يو بل ردول لومړی
ورځ همداسی تیره شوه خو هیڅ نفر بل نفر نه منلو په
سبا يي بیا همدا حالت وو خو کومی پریکړی ته ونه
رسیدل اته ورځی مثلثل دا لړۍ جاري وه اخر کی يو
نفر راغی ټولو ته يي وویل چی وه وروره تاسی څه
دماشومانو کانی راخیستي دي.
دادیو هیواد مشري ده باید چی داسی انسان ته يي
وسپارو چی مستحق يي وي زه درته وایم زه داسی يو
انسان پدی ساحه کی پیژنم چی تاسو کی يو نفر هم نه
پیژني تاسی به ماسره داوعده کوۍ چی هغی نفر که
هر چاته ګوته ونیوله هماغه به دهیواد ملي مشر وي.
ټولو ورسره ومنله دانفر بیرون دسرخ زمري په خوا
کی پروت وو ټول ژوند يي دهمدی مقبری زیارت ته
وقف کړی وو دغه صوفي شراب څښونکي درویش

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاځيد لومړی يې په ټولو نظر تير کړ بيابيرون ووت شيبه به نه وه تيره چی بيرته راغی دوه دغنمو وږي يي په لاس کی نيولي دټولو خانانو په منځ کی تير او داحمد خان په لونګی کی يې دادوه دغنمو وږي دتاج په نوم ورکيښودل او وييې ويل":داستا جيغه ده او ته دافغانانو پاچا يې"ټولو دکابلي صابر شاه دغه پريکړه ومنله او پری خوشحاله شول.

دشير سرخ په مزار باندی سپين بيرغ رپيږي،او دافغانانو دملت مشران تری لاندی راغونډ دي،يوی خوا اوبلی خوا تری اسونه ځغلي،دپښو ګرد يې اسمان ته پورته کيږي،دشنه اسمان لاندی بوری ځليږي مځکه له هيبته ريږدي،دافغانانو مشران سره په مرکه دي، او کشران يې انتظار باسي،ترڅو دهغوي مشران څه کوي.

کابلي صابر شاه پدی بيت ويلو سره احمد خان ته مبارکي وايي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تخت وتاج دی مبارک شه
د پښتون ټبر زلمیه
دا ملت دی پر تا لوړ شي
په غلیم شوی بریالیه

ستر واکمن شوی ددی خاوری
رب دی ستر لره زمریه
د ولس په غم شریک شه
ملت ویښ کړه ننګیالیه

یو ګړی غفلت ونه کړی
واک ستا سوله دی په څه
په دردو یي ځان خبر کړه
لاس دی مینځه له هوسه

(c) ketabton.com: The Digital Library

نور دهیخ شي کمی نشته
خو تنها چی تربیه شي
په ملي روح یي ژوندون وي
له تقلیده بیګانه شي

یو دبل په غم شریک شي
دنفاق ښخه ګوښه شي
خپل ځان وپیژني هڅی
چی پر ځان باندی تکیه شي

وس نو ستا ولاس ته ګوره
ملا دی وتړه احمده
دخپل قام په خدمت پاڅه
مرسته غواړه له احده!

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه دهمدی ورځی څخه وروسته داحمدخان څخه په
احمد شاه دراني بدل شوم دامنصب څومره خه څیز
دی کنه!
تر اوسه پوری احمد وم خو چی منصب می پیدا کړ
احمدشاه دراني شوم داوخت زما عمر غالبا25 کاله
وو.
تر ټولو لومړی کار می دیو داسی جرګی جوړول وو
چی موږ ورسره دټول هیواد په اړه مشوری وکړو
هغوی راسره خپل نظرونه شریک کړي داخلک به
پوهان او عالمان اود خه زړه څښتنان وي.
بل په کندهار او هرات کی دیو داسی ماڼی جوړول
ترڅو خلک یي شاهي ماڼۍ وبولي دهر هیواد خلک
ورته راشي او زموږ شاهي ماڼۍ واوسي.
او بله مهمه خبره دخپل هیواد ټولی پولی راګرځول
خپل هیوادوال ددوه ډله کیدلو نه ساتل اوجنګ دخپل
هیواد او وطن نه لری شړل وو.
موږ یو قطعه جوړه کړه دغلامخانی په نوم چی هر
ډول خدمت ته چمتو وو موږ خپل فوځ په دوه برخو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ویشلي وو یو خو عادي سرتیري وو چی جنګ ته به استول کیدل خو ددوهمی ډلی تخنیک ما دنادر افشار له طریقی څخه زده کړ.
لکه څنګه چی افشار پاچا غیر افغاني قومونه لکه افغانان .بلوچ . ایماق او ازبکان دخپلو ساتونکو په رقم ګمارلي وو ماهم دغلامخانی قطعه جوړه کړه چی دغیر پښتون عناصرو او تعلیم لرونکي قزلباش عسکر مو په هغی کی شامل کړل له دی عمل څخه موخه داوه چی کوم خانان چی سرکښي کوي او دحکومت لپاره جنجال جوړیږي دهغوي خوله به دهغوي دکلیوالو په مصروفولو وربنده شي چی په شاهي ماڼی کی کار کوي او په ډیره اسانی سره به داخانان هم دمرکزي حکومت اطاعت وکړي.
زه دخپل عمر په لحظی لحظی تیریدلو باندی سخت خفه کیدم داسی هیڅ څوک راسره نه وو چی خپل زړه ورته تش کړم بس یوه ورځ می دپاپیروس یوه ورقه راواخیسته او په تورکي می پری ولیکل!

(c) ketabton.com: The Digital Library

شیرین عمر چی تیریږي دریغه دریغه
داوبو په خیر بهیږي دریغه دریغه
ولی زړه پری خبر نه دی له رفتنه
چی داهسې زر تیریږي دریغه دریغه
ولی هسی شوی بی غمه زما دله
عمر باد غوندی چلیږي دریغه دریغه
که هر څو په ډیر ناز جوړی کړی مانۍ
په ارمان ځینی پاتیږي دریغه دریغه
دریغه دریغه اخر دریغه زما دله
چی مین جمله تیریږي دریغه دریغه
دا یاران لکه ګلونه دبهار دي
د خزان په تاو رژیږي دریغه دریغه
د هجران مثال دوزخ بیلتون ډبری
دعاشق په سر لګیږي دریغه دریغه
که پیدا نه وی دیدن بیلتون به مړ وو
له دیدنه خون بهیږي دریغه دریغه
اشنایي په مثال ګل حاصل یي ښار دی
ښار شي سخت هله سوخیږي دریغه دریغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# احمدشاه به يي څه غم كه وخت دهوش دى
# دوصال نوبت غږيږي دريغه دريغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددی نه وروسته می دشعر او شاعری سره علاقه پیدا شوه هر ځای او هر ډول ماحول کی به می لیکنی کولی دشیر سرخ په جرګه کی دافغاني دود او دستور له مخی انجونو پیغلو او میرمنو هیڅ ګډون نه وو کړی بس چی جرګه خلاصه شوه ځوانان او ماشومان ولاړل خپلو کورونو کی یي غوغا ګډه کړه چی احمدخان بادشاه شو!

دهمدی جرګی خبره په همدی ورځ تر ټول خراسانه پوری ورسیدله هره پیغله او هره میرمن خبره شوه هغوي ټولی ولاړی زموږ کور ته او زما مور زرغونی ته یي دځوي مبارکي ورکړه.

زما مور هم پدی ورځ دخوشحالۍ نه په جامو کی نه ځاییده هری خوانه په هیواد کی جشنونه وو ځکه چی بل هیڅ داسی قوت نه وو پاتی چی افغانان دی نور پرمختګ ته پرینږدي.

موږ دنادر په فوځ باندی ټول قوتونه خه وځپل موږ په داسی عصر او زمان کی ژوند کړی دی چی دهیڅ طرف څخه هم ورته څه خطر نه وو ځکه دنادر

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوژل کیدو ځخه وروسته دفارسیانو مرال ډیر ضعیف شوی وو دهغوی خپلی کورنۍ جګړی دومره زیاتی شوی وی چی بهر ته یي فکر هم نشو کولای اونه هم دهند دمغولو هغه قدرت او جلال پاتی وو بس صرف نوم او درباري القاب او تشریفات ورپاتی وو په شمال کی هم داسی قوي دولت نه وو پاتی چی افغانستان ته خطر ولري او دبخارا امیر نه یوازی داچی په بل چا یي یرغل نشو کولای بلکی دځان ځخه ددفاع توان یي هم نه درلود.

فکر کووم لکه ځنګه چی به تل افغانستان ته یو بلا پیښیده او افغانان یي خپل کور ابادولو ته نه پریښودل داځل هڅی کومی بلا شتون نه درلود او افغانانو کولای شول چی په خلاص زړه خپل کورګی اباد کړي.

خو زه داسی انسان نه وم چی یوازی دی دخپل کور په ابادولو قانع شم بلکی دټولی نړی ابادول می هیله وه

او فکر کووم چی تر ډیره حده خپل منزل ته رسیدلی

(c) ketabton.com: The Digital Library

هم یم.
زموږ په وطن کی نور هر څه خه برابر وو بلکی زه
پوهیدم چی موږ کومی بریاوی تر اوسه حاصلی
کړیدي ټولی دهمدی پښتنو ورونو په مټ مو حاصلی
کړي دي
خو ددی سره سره بیا هم پښتانه په دوه ډلو ویشل
شوي دي اودالیان اوغلجیان ماډیر فکر وکړ خو
ددوي دیوځای کولو هیڅ لاره نه وه.
بس دزړه له درده می دغه شعر خپلو وطنوالو ته
ډالی کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

قافله دعشق راغلی دکوم خوا ده
په زړګي باندی می شته که څه غوغا ده

ټوله یوه دي که غلجي که اودالي دي
څه هغه چی یي دزړه شیشه صفا ده

چی عمل یي دنیکۍ دي میړه هغه
که اغوستي یي ګدله دخامتا ده

پښتانه دي ټوله لاس سره یو کاندي
چی مو نن غزا هر لوري شاوخوا ده

بی زحمته راحت چیرته موندی نشی
داحمد ځکه په هر لوري غزا ده

یو څه وخت وروسته دخراسان خلکو ځانته مهر جوړ کړ چی په هغه کی لیکل شوي وو.
الحکم الله یا فاتح احمد شاه دراني .

(c) ketabton.com: The Digital Library

دهمدی مهر څخه وروسته مو شورا جوړه کړه تر څو
دهر قوم او قبیلی مشران پکی وي.
دخراسان نوم موږ ته یو ډول دپخوانۍ غلامۍ
ښکارندویي کوله ځکه چی هغه زموږ دتیرو تورو
وختونو نماینده ګي کوله.
وس نو باید یو نوی نوم دخراسان لپاره وټاکو دهر
ډول خلکو مشوره به مو اوریدله بلکی زه به په لارو
او کوسو کی ګرځیدم دعوامو نه به مو پښتنی کولی
تر څو دوي دخراسان لپاره کوم ډول نوم غوره کړي.
هر کراچی والا هر دیاڼي مار او هر خټګر نه به مو
پښتنی کولی ترڅو دوي دخراسان لپاره کوم نوم
غوره ګړي دډیرو پښتنو او دحال احوال څخه وروسته
مو لویه جرګه رامنځته کړه په هغی کی دهر ولایت
او دهری ساحی امامان موجود ول دهر افغان فرد
اواز رسوونکی موږ سره پدی جرګه کی شامل وو.
زموږ ټیم د ډیرو پښتنو او ډیر فکر څخه وروسته یو
نوم غوره کړ اوغانستان اوغانان هغو خلکو ته ویل
کیږي چی صرف دغرو اورغو خلک وي دنهرونو

(c) ketabton.com: The Digital Library

او اوبو تر ښنګ ژوند کوي تل دصافی هوا سره بلد
وي دپاک زړه خاوندان وي تل خلکو ته بخشش کوي
اوغان پخپله هغه چاته وايي چی خپل سری وي او
دهوا په شان تیز خپل کارونه سرته رسوي او چی هر
څوک يي په لومړي ځل وګوري نو زړه پری بايلي
او تراخره پوری يي په ملګرتيا نه پښيمانه کيږي.
واقعا دايو خه نوم وو موږ دی دری ورځی جرګی
دی پريکړی ته ورسولو چی دخراسان نوم په
اوغانستان بدل کړو.
خو داوغانستان نوم اوغانستان پاتي نشو بلکی ددیني
عالمانو په وينا اوغانستان نوم يو دغرور نه ډکو
خلکو لپاره استعماليږي.
نو ځکه ډيرو علماوو فتوا ورکړه چی داوغانستان
نوم دې بدل شي ځکه مو نو داوغانستان نوم په
افغانستان تبديل کړ.
او تر قيامته پوری به انشالله دافغانستان په نوم
داخاوره ونومول شي.
زه دخپلو خلکو نه همدا تمه لرم موږ چی کومی

(c) ketabton.com: The Digital Library

سيمي نيولي هغه كه پريدي هم څه خبره نده خو بايد
دافغانستان يوه برخه هم د غليم په لاس ورنكړل شي.
تاسی به فکر کوی چی زه صرف يو زوي لرم؟
نا زما زوي خالي تيمور ندی
زه دتيمور په رقم نهه نور زامن هم لرم
بس دامی وينا وه چی هغه نورو کی يو دی هم شاهي
ميراث ته سترګی نه پټوي.
خالي تيمور شاه می د خپل وليعهد په توګه ټاکلی وو
کال1160 ه(1747)په پای کی مو تکل وکړ تر څو
دافغانستان او دپختونخوا ټولی سيمی پخپل واک کی
واخلو لکه کابل غزني او پيخور چی دامهال پکی
)تيموري او نادري پخواني حاکم(ناصر خان ميشت
وو
زه دپښتنو قبايلو ديوځای کولو څخه وروسته روان
شوم دغزني په لور ترڅو دافغانستان سرحدونه
راوګرځوو او دپرديو يرغلګرو له زور او ځواک
څخه نور پښتانه ورونه خپل وطنوال او خاصکر
مسلمانان وژغورو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دپښتنو قبایلو څخه مو خه پوره ځواک برابر شو بلکی دغلامخانی عسکر مو هم پکی ملګري کړل لومړی مو دغزني څخه په لږه فاصله کی خپلی خیمی ودرولې او دغزني حاکم ته مو په لیکلي بڼه دصلحی پیغام ورولیګه ترڅو نور په افغانانو دخپلو ظلمونو څخه لاس واخلي.

دغزني حاکم زموږ په ورلیګل شوي خط هیڅ ځان ونه پوهاوه پوره یوه ورځ مو ورته صبر وکړ ترڅو بیرته پیغام راشي خو پیغام رانغی فکرکووم خالي یي جګړه غوښتله خو دابیا مانه غوښتل ځکه چی پښتنو او خاصکر افغانانو ته به پدی جګړه ډیر زیات تاوانونه اوړیدلی وای بس عسکر مو دعامو خلکو په جامه کی خار ته ورداخل کړل ټول عسکر مو اول نه پوه کړی ول چی هرکله شاهي خیمی ته ورسیدل نو ضرور به ورته وسلی ورسیږي او سیده باید بریدوکړي.

لومړنی ډله مو بغیر داصلحو څخه ورولیګله دوهمه ډله داصلحو سره دغزني ولایت ته دننه شوه پریکړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

اول نه شوی وه چی دوهمی ډلی ته اجازت دی برید
دی وکړي دریمه ډله سره داصلحو په ګاډیو کی
کښیناستی دوهمی ډلی ټول عسکر په جنګ کی
بوخت وساتل دریمی ډلی لومړی ډلی ته وسلی
ورورسولې.
زه هم دخپل پوره فوځ سره دماڼی په لور روان شوم
او محاصره شوی ماڼی ته مو یوځل بیا پیغام ولیګه
ترڅو دجنګ څخه لاس په سر شي دغزني حکمران
چی خپل ځان دماتی په حالت کی ولید نو تسلیم شو
اوپدی ډول مو په ډیرو لګو تلفاتو سره غزني ونیو
دغزني په نیولو سره مو زیات شمیر وسایل لاس ته
راغلل او ددی ځای عسکر مو هم دامر تابع شول.
پای!

(c) ketabton.com: The Digital Library

دلوی امپراتور ابدالي بابا ناول لومړۍ برخه دډیرو هڅو وروسته په پي ډی ایف بڼه خپره شوه انشاءالله دوهمه برخه به یی هم ډیر ژر خپره کړو.

په تمه اوسئ انشاءالله ډیر ژر ...

(c) ketabton.com: The Digital Library




ليکوال:سيدادريس سادات

(c) ketabton.com: The Digital Library

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**